(c) ketabton.com: The Digital Library



د کار حق او آزادي : .......... ۱۱۱
د زده کړې او علم حق : .......... ۱۱۲
په هرڅه کې د نارینه ؤ او ښځینه ؤ د مساوات : .......... ۱۱۲
سیاسي پلورا لیزم.......... ۱۱۲
دینی پلورا لیزم:.......... ۱۱۳
دوهمه برخه – د ډیموکراسۍ مناقشه.......... ۱۱۴
ډیموکراسي ولې کفر دی؟.......... ۱۱۴
د ډیموکراسۍ دتکفیر د لائل.......... ۱۱۶
د سیادت یا (اعلی حاکمیت) موضوع : .......... ۱۱۶
د حاکمیت آیتونه.......... ۱۱۷
دولس د ارادې د تقدس موضوع.......... ۱۲۱
د اکثریت درأیې دمعیاریت موضوع.......... ۱۲۳
د قانون مصدر عقل دی که شرع ؟.......... ۱۲۵
آیا یوائې عقل پر اشیاؤ او افعالو د(ښه والي یا (بدوالي) دصحیح حکم صلاحیت لري؟.......... ۱۲۶
انتخابات.......... ۱۲۸
په اسلام کې دنظام خصوصیات.......... ۱۲۸
آیا د ډیموکراتیک انتخابي نظام له لارې اسلام نافذیدلی شي؟.......... ۱۳۲
د انتخابي نظام له لارې د اسلام د نه نافذیدلو لس دلائل.......... ۱۳۳
د ډیموکراسۍ د حقوقو او آزادیو مناقشه.......... ۱۳۹
د دین او عقیدې د آزادۍ مناقشه:.......... ۱۴۰
د رأیې د اظهار د آزادۍ مناقشه.......... ۱۴۵
د شخصي آزادۍ مناقشه.......... ۱۴۹
د مسکن د انتخاب د آزادۍ مناقشه.......... ۱۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بنسټګرو په خلاف هجومي کړنلاره ........ ۲۲۲
له تعليم څخه د اسلام په خلاف کار اخيستل: ........ ۲۲۶
د امريکايانو له راتګ سره په تعليمي نصاب کې تبديلۍ........ ۲۲۸
د افغانانو د فکر او فرهنګ د بدلولو لپاره د هندوستان فعاليتونه........ ۲۵۸
د افغانستان لپاره د هندوستان تعليمي او کلتوري فعاليتونه........ ۲۵۸
مهم وړانديزونه او توصيې........ ۲۶۰
د مجاهدينو سياسي او فکري روزنه........ ۲۶۰
د فکري جګړې په اړه پوهاوی........ ۲۶۱
د مدارسو په نصاب کې دلانديې مضامينو داخلول........ ۲۶۱
سيرة النبي: ........ ۲۶۱
په اسلام کې د سياسي نظام تصور:........ ۲۶۲
د کفر دمعاصرو انواعو او اشکالو پيژندل:........ ۲۶۳
د غرب د جناياتو بربنډول........ ۲۶۵
د جهاد تر څنګ دعوت ته هم پاملرنه........ ۲۶۶
**معاصر فکري ارتداد**........ ۲۶۹
معاصر فکري ارتداد د علامه ندوي له نظره........ ۲۷۰
د علاّمه ندوي (رح) پيژندګلوي........ ۲۷۱
د معاصر فکري ارتداد په هکله د علامه ندوي د مشهورې مقالې
بشپړ پښتو متن........ ۲۷۴
**دکابل مسيحي پوهنتون**........ ۲۹۹
تاريخي پس منظر........ ۳۰۰
مسيحيت د تعليم تر پردې لاندې........ ۳۰۲
د امريکايي پوهنتونونو لپاره د اسلامي نړۍ د مهمو مراکزو انتخاب........ ۳۰۳
لبنان – بيروت :........ ۳۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دریم چاپ په اړه یادونه

د الله تعالی ډېر ډېر شکر ادا کووم چې د (فکري پوهنې) کتاب ته یې په افغاني ټولنه کې دومره مقبولیت وروباښه چې په لنډه موده کې یې په لسګونو زره نسخې د افغان مسلمان ولس د ځوان نسل لاس ته ورورسېدې.

د افغاني ټولنې د بادرده او په دیني احساس د سرشار ولس له علماؤ، استاذانو، د فکر او نظر له خاوندانو، لیکوالو، ادیبانو، د پوهنتونونو له با احساسه محصلینو، د مدارسو او مکاتبو له طالبانو او ټول لوستي نسل څخه مننه کووم چې د (فکري پوهنې) کتاب یې په بې ساري ډول استقبال کړ او زه یې په خپلو ارزښتناکو توصیو، مشورو او لارښوونو ونازولم، او په دې لاره کې یې زما د هڅو قدرونه او زما لا نوره هڅونه وکړه.

د دې لپاره چې د (فکري پوهنې) د کتاب نور خدمت مو هم کړی وي او د دوستانو لوړولې مشورې مو تر ممکنه حده عملي کړې وي د (فکري پوهنې) پر کتاب مو له سره کتنه وکړه او د لاندې یادو شویو چارو تر ترسره کولو وروسته مو د دریم ځل لپاره چاپ کړ:

۱ – د کتاب ټوله محتوی له سره په نوي شکل ترتیب شوه او په ډېرو ځایونو کې اوږده پراګرافونه په لنډو پراګرافونو ووېشل شول.

۲ – تر ممکنه حده په کتاب کې لیکنښې په دقیق ډول مراعات شوې.

۳ – د کتاب په ډېرو ځایونو کې د پېچلو او علمي مسائلو او عبارتونو وضاحت وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴** – په ډېرو ځایونو کې د کتاب په موضوعاتو پورې اړوند نوي معلومات ورزیات شول او هڅه وشوه چې د موضوعاتو نیمګړتیاوې پوره شي.
**۵** – هڅه وشوه چې د کتاب په متن کې د امکان ترحده ټولې ژبنۍ، تعبیري، مطبعي او نورې تېروتنې په دقیق ډول اصلاح شي.
او دا دی افغاني ټولنې ته یو ځل بیا د (فکري پوهنې) کتاب له پورتنیو ځانګړتیاوو سره په نوې بڼه په دې هیله وړاندې کووم چې ما به د لوستي نسل په اړه خپل یو څه مسؤولیت ادا کړی وي او هغوئ به پر ما خپلې پیرزوینې او مشورې لورولې وي.

و السلام

مولوي عبد الهادي (مجاهد

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ب: صوتي اعلام:**

صوتي اعلام لکه راډيو، فيتې او دې ته ورته نورسائل برقي چې په اسانۍ سره د هر چا او هرې کورنۍ غوږ ته په هر ځای کې خپل پيغام په آسانه ور رسوي او په هغوئ تأثير کوي. پدې لړ کې راډيو تر ټولو هغه مهمه وسيله ده چې خپل پيغام د سمې، غرونو، دښتو، ځنګلونو، وچې او سمندر هرځای ته رسوي.

**ج: تصويري د (ليدلو) اعلام:**

تصويري اعلام لکه تلويزون، سينما، کمپيوټر، ويډيوفون، ستيلايټ، تياتر، فېسبوك او نور چې په ډېره مؤثره توګه او عالي کيفيت هره صحنه په ژوندي ډول د خلکو مخې ته ږدي او ليدونکي مستقيماً تر تأثير لاندې راولي.
هرڅومره چې د اعلام ډولونه ډېرېږي او کيفيت يې پر مختللی کېږي نو په هماغه اندازه يې د تأثير او نفوذ ساحه هم پراخېږي.
اوس په نړيواله سطحه د هر ډول اعلام واکې او کنټرول د بين المللی صهيونيزم او استعماري دولتونو په لاس کې دي. او په سيمه ييزه سطحه يې تقربيا ټول اسلامي دولتونه او دهغوئ اعلام هم تر تأثير لاندې راوستلی دی. د نړيوال صهيونيزم په ترټولو خطرناک کتاب (يهودي پروتو کولونه) کې چې د ټولې نړۍ دکنټرولو لپاره د صهيوني کارپوهانو د نظرياتو او پلانونو مجموعه ده راغلي چې:
((په نړۍ کې ټول اعلام زمونږ په منګولو کې دی. که يوه نيمه جريده چېرې آزده هم پاتې وي نو هغه دومره د اهميت او تأثير وړ نه ده. هغه به هم په يو نه يو ډول د خپلو اهدافو لپاره وکاروو)). همدا راز په بل ځای کې ليکي:((د دنيا ټول نشراتي ارګانونه او د فکر د خپرولو ټولې ادارې بايد زمونږ په کنټرول کې وي. که چېرې کومه اداره زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴ــ د بیان او تبلیغ ازادي** :

په ډیموکراسۍ کې د بیان آزادي یو مسلم حق دی. هرڅوک د هرڅه د بیانولو حق لري. څوك بل څوک د نظر له بیانولو څخه نه شي منع کولی. که څه هم د نظر دغه بیان د الله تعالیﷻ، د دین، د کوم پیغمبر علیه السلام او یا د عقیدې په هکله وي. د اسلام ستر پیغمبر محمد ﷺ ته د اروپا لخوا دکارتونونو په وسیله د سپکاوي په عمل کې هم همدغه دلیل د جواز لپاره وښودل شو.

**۵ــ د مسکن حق** :

ډیموکراسي هر انسان ته حق ورکوي چې په هرځای کې یې چې زړه وغواړي واوسي، او په هغه ځای کې دې د هغه هویت او شخصیت ته احترام وکړای شي. یعنی که یو کافر وغواړي چې په مکه کې د حرم ترڅنګ و اوسي نو هم باید منع نه کړای شي.

**۶ــ د ملکیت حق**:

په ډیموکراسۍ کې انسان د هر شي د ملکیت د لرلو، له هرې لارې د مال د ګټلو او په هره لاره کې د هغه د مصرفولو حق لري. ډیموکراسي د مال په ګټلو او یا مصرفولو کې هیڅ خارجي دیني او یا بل عامل ته د دخالت اجازه نه ورکوي. بلکې دا د انسان حق دی چې په هره طریقه مال ګټلی او یا مصرفولی شي و یې ګټي او مصرف یې کړي.

**۷ــ د کار حق او ازادي** :

په ډیموکراسۍکې انسان د هر ډوول کار د کولوحق لري. په کارونو کې حلال او حرام نشته، یعنې په اسلام کې دووسي او د فحشاوو کار حرام دی، خو په ډیموکراسۍ کې خلك همدغه کار هم د (سکس ورکرانو) په نامه په قانوني شکل کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ارادې هم مقدسه ګڼله کېږي. که الله ﷻ په خپل قانون او شریعت کې یو څه نازل کړي وي خو ولس بل څه وغواړي نو ډیموکراسي حکم کوي چې الهي شریعت دې پرېښودل شي او د خلکو له ارادې را وتلی قانون دې عملي کړای شي.

ډیموکراسي وایي چې د ولس اراده دې د اساسي قانون په شکل کې د کوم تقنیني مجلس یا (لویې جرګې) او یا بل کوم ولسي مرجع لخوا تدوین او ومنلی شي، او بیا دې شریعت او یا بل عرف او قانون ته د اساسي قانون په رڼا کې وکتلی شي، که چېرې له اساسي قانون سره برابر وو نو بیا پدې خاطر د منلو وړ دی چې له اساسي قانون سره موافق دی، نه له دې امله چې هغه د الله ﷻ حکم او شریعت دی. او که چېرې له اساسي قانون سره موافقت ونه لري نو بیا په هېڅ صورت کې عملي کېدلای نشي، که څه هم چې صریح آیت، یا صحیح حدیث او یا دامت د علماؤ اجماع هم وي. د خلکو رأیې او ارادې ته پر شریعت باندې د تفوق حق ورکول هغه کفر دی چې الله ﷻ خپل رسول ورڅخه منع کړی دی، الله ﷻ فرمایي:

﴿ وَأَنِ ٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ وَٱحۡذَرۡهُمۡ أَن يَفۡتِنُوكَ عَنۢ بَعۡضِ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيۡكَۖ ﴾ المائدة: ٤٩

**ترجمه:** (او فیصله وکړه د دوئ تر منځ په هغه قانون چې نازل کړی دی الله ﷻ او د دوئ په خوښو او ارزوګانو پسې مه ځه، او ځان وساته له هغوئ چې واړوي تا له ځیني هغه څه چې الله ﷻ درته رالېږلي دي). خو په ډیموکراسۍ کې باید حتماً ولس ته رجوع وشي او د هغوئ هیلې او آرزوګانې و پوښتلی شي، او د هغو پر بنا دې قوانین وضع شي، که څه هم چې د الله ﷻ د قانون مخالف وي، تر دې وروسته بیا هېڅ قانون او اراده د خلکو د ارادې پر بنا جوړ شوی قانون نشي ردولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپتمبر په ۶ تاریخ ولیکل چې: «افغان حکومت ۲۰۰۰۰ ملایان روزي». ددې خبر تفصیلات په لاندې ډول دي:

« په افغانستان کې شاوخوا ۲۴۰ زره امامان او مؤذنان فعالیت لري.

افغان دولت د متحده عربي اماراتو په مرسته د جوماتونو د امامانو د روزنې لپاره یو پراخ روزنیز پروګرام پیل کړی دی.

په پام کې ده چې د دې پروګرام له مخې ۲۰۰۰۰ دیني عالمان او امامان وروزل شي.

د روزنې د دې پروګرام یوه برخه په مصر کې د الازهر پوهنتون د استادانو له خوا پرمخ وړل کېږي.

په پام کې ده چې د افغانستان د جوماتو د امامانو د روزنې د دې پروګرام په لړ کې ۱۰۰۰۰ تنه امامان له کابله او ۱۰۰۰۰ تنه نور له ولایتونو وروزل شي.

د جوماتونو د امامانو زیاتره به په کابل کې د کورنیو او بهرنیو استادانو له خوا د اوږده مهال لپاره دیني زده کړې تر لاسه کړي.

د حج، ارشاد او اوقافو وزارت د جوماتو رییس مولوي عبد المالك ضیایي وایي په پام کې ده چې یو شمېر نور امامان نورو هېوادونو ته د روزنې لپاره واستول شي.

د روزنې په لومړیو پړاوونو کې اول نمره، دویم نمره او دریم نمره ټاکو. په دې کار سره ۴۰کسیزه ډله جوړېږي. دا ۴۰ کسیزه ډله بیا متحده عربي اماراتو ته استول کېږي. بیا چې کله دا ډله بېرته هېواد ته ستنه شي نو هغوی بیا نورو علماوو ته په مرکز او ولایتونو کې زده کړه ورکوي. "

په افغانستان کې شاوخوا ۲۴۰ زره امامان او مؤذنان فعالیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې ډلې یوازې نژدې ۴۰۰۰ یې له ارشاد، حج او اوقافو وزارت سره ثبت شوي دي.
دغه راز په افغانستان کې له ۱۲۰۰۰ جوماتونو یوازې ۱۴۰۰ یې له ارشاد، حج او اوقافو وزارت سره ثبت شوي دي.
اوس د الازهر پوهنتون د استادانو له خوا د قباء اصلاحي مرکز په نوم د یوه نادولتي مرکز په همکارۍ د جوماتونو امامانو او خطیبانو ته د دوئ له زده کړو په پراخه او لوړه کچه دیني زده کړې ورکول کېږي.
د دې مرکز مشر (محمد قاسم حلیمي) وایي له منبر څخه باید په ټولنه کې د سوله ییز ژوند کولو او د ټولنې د سمون لپاره کار واخیستل شي.
په کابل کې د مصر سفارت قونسل محمد صبري وایي د الازهر د پوهنتون شاوخوا ۵۰ دیني عالمان په کابل کې دي او د افغانستان په دیني مدرسو او ښوونځیو کې د تدریس ترڅنګ د خطیبانو او امامانو د روزنې چاره هم پر غاړه لري:
موږ پوهېږو چې افغانستان کې مشري د علماوو په لاس کې ده. دوئ د دې هېواد اساس جوړوي او خلك تل د دوئ خبرې اوري. موږ غواړو یو دیني عالم مخکې له دې چې منبر ته پورته شي او خلکو ته د دین پیغام ورسوي هغه باید په هر څه پوه وي. د هغه پیغام باید پر **سخت دریځۍ** ولاړ نه وي بلکې په اعتدال او منځ لاریتوب باید متکي وي.
موږ دا درك کړې چې د افغانستان او مصر علماء باید د د دیني مفاهیمو د ښه درك لپاره پخپل منځ کې د نظرونو تبادله وکړي.
زموږ لپاره د دین اساس منځلاریتوب دی. "
افغان حکومت یوازې ۳۶۰۰ امامانو او خطیبانو ته د میاشتې شاوخوا ۴۰۰۰ افغانۍ میاشتنې معاش ورکوي او پاتې نورو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ح)
حج
زما کاکا حج ته ځي.
د حامد پلار حاجي دی.
حج کول فرض دي.

(ح)
حج
ذبيح حج ته ځي.
د جمال کاکا حاجي دی.
حج کول فرض دي.

**تبصره**: مشکل نه لري.

(خ)
خدای ﷻ
خدایﷻ يو دی.
زه د خدایﷻ بنده يم.
زه په خدای ﷻ ايمان لرم.

(خ)
خيمه
کوچيان خيمې لري.
په خيمو کې ژوند کوي.
اختر په خره بار وړي.

**تبصره**: د خدایﷻ د توحيد، د هغه د بنده ګۍ او پر هغه د ايمان درس غورځول شوی او پر ځای يې د کوچيانو د ژوند او د خره يادونه شوې ده.

(ځ)
ځادر
اسلم ځادر لري.
د اسلم ځادر نوی دی.
زه په ځادر لمونځ کوم.

(ځ)
ځرخی
زما مور ځرخی کوي.
ځرخي ته په لومځي ناسته ده.
لومځی د وړيو ځخه جوړېږي.

**تبصره**: په ځادر د لمانځه کولو ديني مفهوم غورځول شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ورور د مدرسې طالب دی. دا د طاهر طوطي دی.
دعلم طلب په هر مسلمان فرض طاهر له طوطي سره خبري کوي..
دی.
طارق د اسلام يو نوميالی دخياط طوطي شپيلۍ وهي.
مجاهد دی.

**تبصره**: د طالب، مدرسې، د علم د طلب د فرض والي او د طارق (بن زياد) د اسلام د نوميالي مجاهد ګڼلو د ديني مفاهيمو ارزښتمن درس غورځول شوی دی. او پرځاي يې د طوطي او شپيلۍ وهلو يادونه شوې ده او د همدې درس په صفحه کې د طبلې عکس چې د ډمتوب يوه آله ده هم لګول شوی دی.

| (ظ) | (ظ) |
|---|---|
| ظريف | منظره |
| ظريف خپل نظافت ساتي. | دا دمحفوظ د کلي منظره ده. |
| نظافت د ايمان يوه برخه ده. | زمونږ هېواد ښکلې منظرې لري. |
| نظافت د روغتيا لپاره ګټه لري. | ښکلې منظرې د هر چا خوښېږي. |

**تبصره**: د نظافت ساتل، هغه دايمان يوه برخه معرفي کول او د روغتيا لپاره د نظافت د ګټې ښودل، په يقيني ډول په اخلاقي او ديني لحاظ د منظرې تر معرفي د ماشومانو لپاره ډېر غوره دي. خو دامريکايي اشغال د وخت په نصاب کې غورځول شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يادولو ده چې دغه پوهنتون په خپل تشکيل کې د طب او انجينرۍ فاکولتې چې افغانان او افغانستان ورته شديد ضرورت لري نه لري، ځکه د افغانستان آبادول او افغانانو ته ضروري خدمات وړاندې کول د امريکا په لومړيتوبونو کې ندي، بلکې د هغې اصلي هدف د افغانستان او افغانانو تسخيرول او بيا په خپله خوښه اداره کول دي.
په ۲۰۰۲م کال کې د (کرزي) د ادارې د لوړو زده کړو وزير ډاکټر (شريف فايز) د دغه امريکايي پوهنتون د تأسيس وړانديز وکړ.
په ۲۰۰۳م کال کې دامريکا د جمهور رئيس ښځې (لورا بش) د يونيسکو له لارې له دغه پو هنتون سره خپله مرسته او ملاتړ اعلان کړ.
او همدارنګه په کابل کې د امريکا سفير (زلمي خليلزاد) هم لدې پوهنتون سره خپل قوی ملاتړ اعلان کړ.
په ۲۰۰۳م کال کې د کرزي په حکومت کې د خصوصي سکتور لپاره د دولت د سرمايه ګذارۍ عالي کميسون دغه پوهنتون ته د ۸۰ هکتاره په اندازه دوه ټوټې زمکه په کارته سه او دارالامان کې د ۹۹ کلونو لپاره په اختيار کې ورکړه. په ۲۰۰۴م کال کې د دې پوهنتون ادارې د پوهنتون د جوړولو او د امکاناتو د څېړلو او د هغه کارونو ته د کاري چوکاټ (فريم ورك) د جوړولو کارونه تر سره کړل او په همدې کال کې د دې پوهنتون د امناوو د مجلس لومړۍ ناسته د متحده اماراتو په (دوبۍ) کې ترسره شوه.
د ۲۰۰۵م کال د مارچ په مياشت کې د امريکا لومړۍ مېرمنې (لورابش) د پوهنتون له ځای څخه ليدنه وکړه، او لدې پوهنتون سره يې د امريکا د نړيوالې پراختيا د مؤسسې USAID مرسته اعلان کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا کړي، ترڅو یې د ونې د پریکولو لپاره خپل تبر ته لاستی هم د ونې له شاخه وراچولی وي.

امریکایان هڅه کوي تر څو لوی پانګه وال، لویې کمپنۍ بانکونه، شتمن او نفوذ لوونکي جهتونه د سیاسي رشوتونو او هغوئ ته د اقتصادي تسهیلاتو او خدمتونو په وړاندې کولو هغوئ په اسلامي نړۍ کې د امریکایي پوهنتونونو تمویل ته وهڅوي، چې همدغه عملیه دوئ په افغانستان کې هم اجراء کړه او لوی پانګوال او د لویو شرکتونو خاوندان یې د دولت د مالي مؤسساتو ترڅنګ د امریکایي پوهنتون د تمویلوونکو په کتار کې ودرول، چې د هغوئ له جملې څخه څو مهم یې په لاندې ډول دي:

**۱ــ د امریکایانو په لاس جوړه شوې د کابل اداره:**

د حامد کرزي او د هغه د شمال د ایتلاف د ملګرو په مشرۍ جوړ شوی لاسپوڅی حکومت نه یوازې دا چې پرته له کومو شرائطو د دې امریکایي پوهنتون له پرانستلو سره موافقه وکړه او د هغه د جوړېدلو زمینه یې ورته مساعده کړه، بلکې د کابل په زړه او تر ټولو په مهم موقعیت کې یې ورته د دارالامان د سړك پرغاړه ۸۰ هکتاره زمکه هم ورکړه تر څو دغه د تنصیر او د نوي نسل د غربي کولو مهم مرکز ته د پلازمېنې په زړه کې ځای ورکړي.

**۲ــ د افغانستان بانک:**

د افغانستان بانك چې د افغانستان تر ټولو لوی او مرکزي بانك دی او باید چې د افغانستان د مسلمان ولس د شتمنیو امین وي هغه هم د دې امریکایي پوهنتون له تمویلوونکو څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳ـ پښتني تجارتي بانک**:

پښتني تجارتي بانك چې د افغانستان له مهمو دولتي بانکونو څخه دی هم د امريکايي پوهنتون له مهمو تمويلوونکو څخه دی.

**۴ـ الکوزی برادرز**:

د (الکوزی برادرز) کمپنۍ چې په افغانستان د چای، غوړيو او نورو موادو تر ټولو لويه کمپنۍ ده نه يوازې په افغانستان کې د دې پوهنتون د تمويلوونکو له ډلې څخه ده، بلکې همدغه کمپنۍ د پاکستان د لاهور په ښار کې د FCC د مسيحي پوهنتون له مهمو تمويلوونکو څخه هم ده.

**۵ـ عزيزي بانک او عزيزي هوتک گروپ**:

د عزيزي کمپنۍ چې په (ميرويس هوتك عزيزي) پورې اړه لري په افغانستان کې يوه تر ټولو لويه او شتمنه کمپنۍ ده چې په افغانستان او (دوبۍ) کې يې پانګونه کړې ده. افغانستان ته ۷۰ ٪ نفت او ګاز همدا کمپنۍ راواردوي او توزيع کوي يې. په افغانستان کې (عزيزي بانك) په تقريبا ټول افغانستان کې د (عزيزي د تېلو پمپونه)، په (دوبۍ) کې (عزيزي هوټلز) او افغانستان ته د (نسّان) موټرو د راواردولو شرکت د دې کمپنۍ له شتمنيو څخه دي. دغه تر ټولو شتمنه کمپنۍ هم په افغانستان کې د امريکايي پوهنتون له مهمو تمويلوونکو څخه ده.

**۶ـ بيات فاونډيشن** (**بنيادبيات**):

بيات فاونډيشن په افغاني الاصله امريکايي وګړي (احسان الله بيات) پورې اړه لري. د نورو ډېرو اقتصادي پروژو ترڅنګ د (افغان بيسم مخابراتي شرکت) او د (آريانا تلويزوني شبکه ) هم د همدې مؤسسې له شتمنيو څخه دي. د بيات فاونډيشن د دې ترڅنګ چې په افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د امريکايي پوهنتون له تمويلوونکو څخه دی په عمومي ډول د غرب په ګټه د افغاني ټولنې د ذهنيت د اړولو په کار کې نور هم ډېر پروګرامونه او تعليمي پروژې تطبيقوي.

**۷ـ مقصودي فاونډيشن:**

مقصودي فاونډيشن په ازبک نژاده الافغاني الاصل امريکايي وګړي (فريد مقصودي) پوري چې يو لوی سرمايه دار دی اړه لري. فريد مقصودي د امريکا د شيکاګو له پوهنتون څخه په (بزنس ايډمنستريشن) کې د ماسټرۍ د سند درلودونکی دی.
فريد مقصودي په افريقايي هيوادونو او منځنۍ آسيا کې هم د ساختمانۍ او سرک جوړونې په ډګرونو کې سرمايه ګذاري کړې ده، وروسته له هغې چې امريکا افغانستان اشغال کړ، په کابل کې د امريکا د سفارت د توسعې او د کابل ـ قندهار، کابل ـ دوشي او هغو نورو هغو سرکونو چې د USAID په بوديجه جوړېږي قراردادونه يې هم له (فريد مقصودي) سره لاسليک کړل.
د فريد مقصودي د نورو اقتصادي فعاليتونو په جمله کې د (افغانستان د نړيوال بانک پروژه)، (افغانستان فايناسنګ کمپني) او د(افغانستان د مشروباتو د جوړولو صنعت) هم دی، نوموړی تر ۲۰۱۰ م کال پورې په افغانستان کې د امريکايي پوهنتون د (امناوو) د مجلس غړی هم وو. د فريد مقصودي کمپنۍ هم په افغانستان کې د امريکايي پوهنتون له مهمو تمويلوونکو څخه ده.

**۸ـ اينده فاونډيشن:**

آينده فاونډيشن په افغاني الاصله امريکايۍ مېرمنې (شميم جواد) پورې اړه لري. (شميم جواد) په کابل کې زېږېدلې ده، وروسته بيا امريکا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تللې او هلته د (سان فرانسسکو) د (ګولډن ګيټ) له پوهنتون څخه فارغه شوې ده. هغې د امريکا له لوري د افغانستان تراشغال وروسته د امريکا د جمهور رئيس (جورج بش) د ښځې (لورابش) او د سپيني مانۍ په رسمي ملاتړ د (افغان او امريکايي ښځو بنسټ) تأسيس کړ چې همدا يې په خپله رئيسه ده.
شميم جواد چې د غرب په ګټه د افغانانو د ذهنيت د تبديلولو په لاره کې پوره فعاله ده د امريکا د دفاع د وزارت په مالي او د افغان سندرغاړي (وحيد قاسمي) په فني مرسته يې له امريکايي افغان پېژندونکې (لويس پاسکال) سره شريکه د نوي نسل د ماشومانو لپاره د (قوقو برګ چنار) په نامه د ماشومانو د سندرو کتاب تاليف، چاپ او ۴۰۰۰۰ نسخې توزيع کړ، او د دې کتاب سندرې يې په تعليمي نصاب کې هم شاملې کړې.
(شميم جواد) له مشهورو امريکايي مؤسسو او شخصيتونو سره له پېژندګلوۍ څخه په استفاده په افغانستان کې له تعليم او تربيې سره د مرستې په نامه د خپلې مؤسسې (آينده فاونډيشن) له لارې ښې ډېرې پيسې هم ټولې کړې. مېرمن (شميم جواد) په امريکا کې د کابل د لاسپوڅې اداري د پخواني بدنامه سفير (طيب جواد) ښځه ده. طيب جواد په افغانستان کې د يهودانو د تاريخ په اړه د کتاب ليکوال دی چې د هغه له امله يې د امريکا په يهودي ټولنه کې د خپل ځان او خپلې ښځې لپاره ډېر وجاهت او مقبوليت ګټلی دی. د (شميم جواد) د (آينده بنسټ) هم په افغانستان کې د امريکايي پوهنتون له مهمو تمويلوونکو څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۹ـ ګلزار فيملي اينډګروپ:

د (ګلزار فيملي اينډګروپ کمپنۍ) د (حبيب الله ګلزار) په کورنۍ پورې اړه لري. دغه کمپنۍ هم د افغانستان له مشهورو او شتمنو کمپنيو څخه ده چې په افغانستان او (دوبۍ) کې د (کوکاکولا) د جوړولو امتياز هم د همدې کمپنۍ دی.

د پورتنيو يادو شويو کمپنيو ترڅنګ ځيني مشهور اشخاص هم د دې امريکايي پوهنتون له تمويلوونکو څخه دي چې ځينې يې دغه لاندې خلك دي:

١ - افغاني الاصله امريکايی (خالد حسيني) د (پتنګ باز) دکتاب ليکونکی.

٢ - نعيم مومند.

٣ - زرغونه ولي زاده.

دغه پورته ياد شوي جهتونه او اشخاص يوازې د دې پوهنتون افغاني تمويلوونکي دي او د دوئ ترڅنګ د دې پوهنتون اصلي تمويلوونکی د امريکا د نړيوالې پراختيا (USAID) مؤسسه او نورې امريکايي مؤسسي او مليارډران دي.([1])

## د کابل د امريکايي پوهنتون مهمې ځانګړتياوې

١ـ د پوهنتون نصاب په مکمل ډول امريکايې دی. (هماغه نصاب چې په تېرو يادو شويو امريکايي پوهنتونونو کې مقرر دی) هغه چې په ظاهره د ليبرالزم د روحيې او په حقيقت کې د غرب پالنې او مسيحيت پر روحيه ولاړ دی. سره لدې چې دغه نصاب په يو پوره اسلامي هېواد

1 د افغانستان د امريکايي پوهنتون په ويپانه www. AUAF کې د دې پوهنتون د معرفۍ له معلوماتو څخه په استفاده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنتون له لارې چې له جګړې سره په يوه وخت کې زموږ د ملت په تسخيرولو بوخت دی د نن ځوانان هم چې د سبا رهبران دي په C. I. A پورې وتړي تر څو د سبا ورځې دغه رهبران د سبا سياستګذارۍ او پلانونه د امريکا او غرب د غوښتنو او پاليسيو مطابق عيار کړي.

## خاتمه

په تېرو پاڼو کې وليدل شول چې امريکايي پوهنتون يو خالص مسيحي پوهنتون وي چې امريکا او کليسا يې د خپلو ديني، استعماري او اقتصادي اهدافو د تحقق لپاره په اسلامي هېوادونو کې جوړوي ترڅو له يوې خوا د اسلامي امت د مخورو او بانفوذه کورنيو بچيان د هغو له لارې مسيحيت ته دعوت کړي او يا يې لږ تر لږه په خپل جال کې راولي، او له بلې خوا د اسلام د خپرېدو او د هغه د حاکميت مخنيوی وکوي.

دغه هڅه اوکوښښ اوس په افغانستان کې هم د کابل د امريکايي پوهنتون (A. U. F. A) په شکل کې روان دی. که چېرې د دې ملت بادرده او با احساسه ځوانان او اسلامي خوځښت د دغې لويې فتنې مخنيوئ له همدا اوس څخه ونه کړي، نو کېدای شي چې دغه پوهنتون په افغانستان او سيمه کې د اسلام د مستقبل لپاره تر ټولو د لوی خطر په حيث رامنځته شي.

دا چې د دې کرښو ليکونکي ته د دغه پوهنتون د حقيقت، تاريخ او اهدافو په اړه يو اندازه معلومات حاصل شوي ول نو هغه مې ترتيب کړل او د خپل انفرادي مسؤوليت د رفع کولو په خاطر مې د خپل ملت د با احساسه، بايمانه او مؤمنو ځوانانو مخې ته کېښودل، هيله ده چې د هېواد د مخلصو بچيانو د توجه وړ به وګرځي او د دې آزادي خوښوونکي او اسلامپال ولس د بچيانو پام به د کفارو او مستعمرينو شيطاني دسيسو ته ورواړوي.

پای

